مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسورودان ۲۰۲۲/۰۹/۰۶

# وروستۍ ماته ژمنه

## (لنډه کیسه)

کور بیخي د پخوا په څیر و، کوم بدلون یې نه و کړی. چې څنګه مې موټر ودراوه، پلار مې غبرګه راکړه او مور هم ژر، ژر په تندي ښکل کړم.
لومړۍ سترۍ ورځ او دوهمه غلي ورځ هم تېره شوه. خو د هیلۍ درک و نه لګېده، مور پسې مې خوني ته ورغلم. ښه وه، یوازې ناسته وه، ومې ویل: مورې! هیلۍ چیرې؟ زه یې پرون کور ته هم ورغلم، خو هغه نه ښکارېده.
مور مې وارخطا مسکا وکړه: زویه! انجلۍ ده، مخکې خو دې د ترور لور وه، ځکه به هر وخت درسره مخ کېدله، مګر اوس خو دې چنغله ده، څنګه درسره مخ شي، شرمیږي!
ـ مورې زموږ ترمنځ له کوژدې وروسته هم دا تکلفات نه و، کله ناکله مو د هغوی په کور کې د پلار د نه شتون پر مهال سره لیدل، ایران ته له تلو وړاندې هم له مور سره ګډه خدای پاماني ته راغلي وه، اوس ۴ کاله وروسته چې راغلم، څنګه یې بې ما لیدلو ګوزاره وشي؟
د مور سترګې مې تنګې شوې او په مصنوعي غوسې یې وویل: بې شرمه بې دمې لګیا یې، ټولې خبرې نو د کولو وې؟ چې ته یې کوې!
ـ خو مورې...؟
ـ را به شي، ورسره و به ګورې، ته خو لږ صبر وکړه.
اونۍ تېره شوه، زه یو ځل بیا هم په څه بهانه د ترور کره ورغلم، خو پوښتنه را ته سخته شوه، نو همداسې پټه خوله راغلم.
په ۸مه ورځ مې مشره خور هم له پېښوره راغله، مازدیګر یې خوني ته ورغلم. له لاسونو مې ونیوله او په کټ مې کېنوله، تندي ته یې ځیر وم، حیرانه او یو څه پرېشانه وه. په لاسونو مې زور ورکړ او سترګو کې مې سترګې ور واچولې: "ببو رښتیا رښتیا به را ته وایې! چې هیلۍ چېرې او څه پرې شوي، ستا خو همرازه سهیلۍ وه، ولې یې چې هر چا سره بحث چیړم، خبره بل لور ته کشوي؟
ببو مې مخ واړاوه او ماهرانه درواغ یې وویل: زه خو همدا نن راغلې یمه، نه یم خبره!
جګ شوم: چې داسې ده، نو سمه ده، زه سبا ته د ترور کره ورځم او خپله یې پوښتنه کوم. تر څو به په زړه دروند بوج همداسې وګرځوم؟!
ببو را ولاړه شوه: شرم دی لالا!
ـ نو بیا ولې رښتیا را ته نه وایې؟
ـ څه ګټه کوې؟ دوه درې ورځې وروسته به خپله هم پرې خبر شې!
په لوړ اواز مې وویل: څه مطلب؟
په ژړا شوه او په یوه ساه یې، لنډ وویل: هغه مرې!
سر راباندې وګرځېده، په سینه کې مې اورنی سوی او سوز حس کړ. د خونې دیوال ته تکیه شوم، د خبرو ځواک مې وبایلود، خور مې تر خوا راغله: لالا موږ هم هر وخت خوب لیده، چې د خپل لالا او سهیلۍ واده به په شور او زور سره کوو، خو تېر کال ډاکټرانو ته معلومه شوه، چې هغه سرطان باندې اخته ده او ډېر وخت پرې وتلی. د وینې ګډ وډ جریان یې د زړه والونه هم زیانمن کړي او ښایي دا یې د ژوند وروستۍ اونۍ وي!
په ژړا شوم، په سلګیو کې مې خور ته چې مخامخ را ته ناسته وه او په اوږو یې لاسونه را ایښي و، وویل: نو ما ته مو ولې حال نه وایه؟
ـ هغې ویل، چې په دې حالت مې دې نه ګورې، زه به یې بې وسه سترګو ته په کتلو سره له درده ځای پر ځای مړه شم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په مخ مي لاس راکش کړ، په بې دردۍ مي اوښکي صفا کړې او بېرته ولاړ شوم.
ببو هم ودرېده او ورو يې وپوښتل: لالا چېرته ځې؟
ـ روغتون ته ورځم!
ـ خو هلته يې پلار او کورنۍ...؟
ـ له ما زيات حق پرې څوک نه لري، پلار يې هسې هم راباندې خرڅه کړې، چنداني د خسرتوب او پلرولۍ حق نلري، خو زه بې له هغې مرم، بايد خامخا يې ووينم.
د روغتون ادرس مي را واخيست، په ماتو قدمونو د موټرو اډې او بيا د ښاري ګڼي ګوڼي په منځ کې د پلازميني لور ته تلونکي بس کې کېناستم. په راکړل شوې پته د ماخوستن په رنګينو څراغانو کې روښانه خو د ناروغانو له سويو چيغو لړزېدونکي روغتون ته ننوتلم. له پېغلي ريسپشنيستي مي د هيلۍ د اطاق نمبر واخيسته.
په منډه مي د اوږده او سوره ور روغتون د کونج خوني ته ځان ورساوه، چې له وروستي دهلېزه واوښتم، نو د هيلۍ کشر ورور هم وليدلم. يو دم مي پښې بې سيکه شوې. په ماتو قدمونو نور هم وړاندې لاړم، د هيلۍ ورور هم را مخکې شو او کلکه غېږ يې را کړه، په سلګيو کې يې څه وويل، خو هيڅ پرې پوه نشوم. هغه را نه ليرې شو، بيا يې له لاسه ونيولم، ځوکې يې په خپل ځادر را ته صفا کړه او د اوبو را وړلو پسې بهر ووت.
د هغه له وتلو سره سم يوه چاغه ډاکټره او دوه نرساني له خوني را ووتلې او د روغتون د ځانګړې چپني يو کارمند ته يې مخ کړ: د دې اطاق له ناروغ سره راغلی پيواز څه شو؟
په چټکۍ ور ولاړ شوم، هغه ووت، زه د ناروغ خاوند يم. ما ته ووايئ: څه خبره ده؟
ډاکټرې لومړی سر تر پايه را ته وکتل او بيا يې په ارامه لهجه وويل: هغه په هوښ راغله او د پين کېلر ستنو په اثر يې دردونه هم يو څه ارام شول .
ناڅامه مسکا مي وکړه، له ډاکټرې مي مننه وکړه او په قرار غږ مي وپوښتله: اوس يې ليدلی شم؟
ډاکټرې شونډې ويرې کړې: ولې نه؟ خو زيات ورسره مه کېنئ! د ډېرو خبرو ځواک به و نه لري!
خوني ته ورغلم. څنګونو ته يې ډول ډول الکتروني ماشينونه لګېدلي و، په چپ لاس کې يې د سيروم ستن بنده وه. په ورو قدمونو مخکې ورغلم. سترګې يې پټې وې. په ابي جامو کې نغښتې وه، له ګڼو ګوګوتي وېښتانو خالي سر يې چې ما به هر وخت پرې ځوروله، کڅوړې ته ورته رخت تاو و. وړاندې ورغلم او څنګ ته يې کېناستم. په تندي مي يې لاس را کش کړ، د کابل په سره هوا کې هم خولې پرې را ماتې وې، وجود يې هم ګرم و. په پټو سترګو يې د کشر ورور نوم واخيسته او بيا يې وويل: زه ښه يم، ته لاړ شه او ويده شه، پرون هم نه يې ويده شوی.
لاس مي يې له تندي لرې کړ، خوله مي غوږ ته ور نيږدې کړه، داسي چې شونډې مي د هغې د غوږ له نرمۍ سره ولګېدې، په غريو نيولي غږ مي وويل: خوب مي تښتېدلی، نه راځي.
يو دم يې سترګې پرانيستې، پوه شوم چې له غږه يې وپېژندلم. ژر يې په وچ زور د وچتېدلو هڅه پيل کړه، سينه يې را سره ولګېدله. لاسونه مي له اوږو ور لاندې کړل او کلکه مي ونيوله، ورو مي وويل: مه ښورېږه، چې سيروم دې خطا کيږي. مخ يې زما په لور را واړاوه، خوله يې زما زني ته برابره شوه، ښکل يې کړم. خو هومره کلک نه، څومره کلک يې چې پرديس ته د تګ پر مهال ډکو سترګو باندې کلک ښکل کړی وم.
غوښتل يې وغږيږي، په خوله مي د لاس درې ګوتې ور برابرې شوې او په اشاره مي پوه کړه، چې همداسې غلې اوسه.
اوږده شېبه مي همداسې سينې پورې جوخته نيولې وه او چې څنګه يې وتوخل، نو ترې پورته شوم او څنګ ته ايښي اوبه مي ور وڅښلې. د دمې په اخيستلو سره يې ورو، ورو وپوښتلم: کله راغلې؟
په مسکه خوله مي ځواب ورکړ: کلي ته ۸ ورځې وړاندې او دلته همدا اوس!
په مړاوې څهره يې وويل: نه به راتللې!
تندی مي تريو کړ، سترګو ته يې ځير شوم، ښی لاس مي په لاسونه کې کلک ترې ونيو او بيا مي وويل: څنګه، له ما پرته خو به دې څوک نه وې خوښ کړی؟
ــسترګو يې اوښکې پيدا کړې او په غمجنه ژبه يې وويل: که زه يې خوښ هم کړم، په دې حال کې ما نه خوښوي!
خوله مي تندي ته ور اوږده کړه او په ګرم تندي مي سرې شونډې ور کېښودې، بيا مي لاسونه مخ ته ور وړل او ومې ويل: چې زه يم، د بل چا په اړه دې سوچ ته کله پرېږدم.
هغې ناڅامه مسکا وکړه. ما به لا بله خبره نه وه کړې چې ورور يې دوه بوتله اوبه او په يو پلاستيک کې له څو ډوله ميوو سره د منې جوسونه هم راوړل، بيا د دې خبرې په ويلو سره له خوني ووت: لالا زه به ډاکټرې نه د درملو نسخه را واخلم.
پلاستيک مي پرانيست، درې کيلې مي سپينې کړې، او د هغې سر ته ايښي قاب کې مي د جوس تر خوا کېښودې. بيا مي د کيلې وړه وړه ټوټه په خوله کې ور اچوله او جوس مي ورکاوو. هغې به وموسل او و به يې ويل، چې بس ده، خو ما د لا نور خوراک ټينګار پرې کاوو او په څه خوارۍ نه دوه کيلې او يو جوس پرې تمام کړل.
له خوراک او څښاک وروسته يې په موسکانه خوله وويل: لکه چې ډېره دې يادولم او راپسې خفه وې؟
ـ وم، خو ته ولې دا پوښتنه کوې؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ـ ځکه چي زوړ شوی يي .
ـ که داسي وي، تر ما دوه چنده زياته بوډۍ شوې يې، نو مطلب چي تا نو بيخي هر وخت يادولم.
ـ نو ولي ته پکي شک لرې؟
ـ نه، بيخي نه. شک به ولي کوم، ته سراسر يقين يې!
لاس يې را اوږد کړ، لړ مي کښنوه، بالښت ته مي لاس کړ. هغې سر په نفي انداز وښوروه. و مي موسل، پوه شوم چي بالښت نه غواړي، ور تاو شوم، له ملا مي لاس ور لاندې کړ او مايله مي خپلې سيني ته تکيه کړه. د زني سر مې د هغې په غومبري لګېده.
زما له چپي څنګلي يې خپل ښی لاس چاپېر کړ او ويې ويل: پوهېږې څومره درپسي وردېدم؟
ومي ويل: څومره؟
کړه يې: د ناروغی له دې ټولو دردونو زياته او پوهېدم چي زړه خورم او يوه ورځ به درپسي ماتېږم.
ـ کاش بيخي دې ما سره کوژدني ته زړه نه وای ښه کړای، دومره خو به نه ځورېدلې!
ـ دا دردونه ځورونکي نه و!
ـ خو سره له دې هم ته دې حالت ته را ورسېدې؟!
ـ دا به خدای را ته ليکلي وه!
چوپ شوم. هغې بيا وويل: زه وېرېدم چي ته به مي دې حالت کي ليدلو سره... غلي شوه او خبره يې نيمه کي پرېښوده.
سترګي مي ور برګي کړې: وېرېدې چي په نيمه کي به در نه مخ وګرځوم؟
زما له خبرې اورېدلو سره يې ژر، ژر وويل: نه، نه؛ ما ويل، چي...
خبره مي ور ختمه کړه: ته را ته داسي يې لکه بدن کي چلېدونکي وينه، بې له تا د ژوند تصور نه کوم او نه مي کله د بل چا په اړه سوچ کړی.
سر يې را پورته کړ، ما هم ترې پورته کړ او په شوخی مي وويل: که په مخ مي ښکلوې، نو مه مي ښکلوه، خو که زما په خوښه پېرزو راباندې کوې نو سمه ده .
لاس يې را پورته کړ او په مخ يې ورو ووهلم.
د سيروم تر ختمېدلو ورسره وم. بيا ډاکتره راغله، هغې ته يې د ويده کېدلو او ما ته د بهر وتلو وويل.
هغې وموسل او ويې ويل: زه ښه يمه، سهار به راسره وګورې، اوس لاړ شه او ويده شه.
د هيلی وروستی ژمني ته د "ښې شپې" په ويلو سره له خوني بهر شوم او د خوب خوني ته لاړم. تولهٔ شپه خوب نه را ته، يوه بده ويره مي په زړه ننوتې وه، له هيلی د اوږد بېلتون ويره. په شنه سهار له اوداسه وروسته د هيلی خوني ته ورغلم. نرسي را ته وويل چي ويده ده او شپه يې ښه وه.
جومات ته لاړم او تر لمانځه وروسته مي اوږدې دعاګاني وکړې. بيا د چايو له پاره بازار ته ووتلم او د خوراک له پاره مي يو څه شيان را واخيستل. د روغتون په لور روان شوم، چي څنګه لومړي دهلېز ته ورسېدم. د هيلی ورور مي له څو نرسانو، ډاکترې او روغتيايي چيرکټ سره د عاجلي خوني په لور د منډې په حال وليدل.
حواس مي وبايلل، خو ژر مي په تندکونو خوړلو سره تر هغوی ځان ورساو.
ډاکترې د عاجلي خوني دروازه بنده کړه او مونږ له خوني بهر ودرېدو.
له اوږده انتظار وروسته ډاکتره را ووتله؛ تېز يې په خوا ورغلم او په تېزو، نامنظمو ساګانو کي مي ورته وويل: ډاکتر صيبي! په هغي څه وشول؟
ډاکتره غلې وه.
حوصله مي تمامه شوه، بيا مي څه و نه ويل، ځکه د ډاکترې چوپتيا ځورونکي وه. ننغ خوني ته ننوتلم. د چيرکټ په خوا کي ودرېدم. په خونه کي چوپتيا وه، ټول ماشينونه بند وم، حسونو مي بد زيری راکوه. د هيلی په زړه مي سر کېښود، د حرکت او دربېدو پکي څه نه و. سترګي يې هم بندې وې او د شونډو لړه پاتي سرخي يې هم تښتېدلې وه.
همداسي رانه، رانه مي د هيلی وجود ته کتل، ذهن مي له سوچ، زړه له يقين او غږي له حواسو خالي وو. څو شېبې مي هغې ته همداسي وکتل او بيا چي په خپلو حواسو کي راتلم او د سوچ ځواک مي ترلاسه کاوو، نو زه هم په يو اوږده چيرکټ پروت وم او د خوني له پرانيستي دروازې مي د هيلی ورور ليده چي د هغې جسد يې ايمبولېنس ته د نرسانو په مرسته پورته کاوو. ذهن مي د هغې د وروستی وعدې په ماتېدو کي مغشوش غونډې و او په ټول وجود کي مي يوازې سترګو کار کاوو.
سمسور ودان
...

يادونه: دا لنډه کيسه د سادات صيب لنډې کيسې (انتظار) نه په تاثر ليکل شوې ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ